# نړیوال بانک

اړيکي: *په کابل کی*: عبدالروف ضياء 80800 702 (93)
بريښنالیک: azia@worldbank.org
په واشنگټن کی: اريك نورا *4735 458 (202)*
بريښنا ليک: enora@worldbank.org

**خبری خپرونه نمبر**:2006/SAR

## نړیوال بانك د افغانستان د پراختيا لپاره د 1.2 ميليارد امريکايی ډالرو ژمنه کوی

**لندن، پنچشنبه**، د ۲۰۰٦ کال د فبروری ۲ مه نيټه – نړيوال بانك د مرستندويه هيوادونو د غونډی په ترڅ کی چی په روانه اونی کی په لندن کی جوړه شوی وه د افغانستان لپاره د 1.2 ميليارد امريکايی ډالرو ژمنه وکړه. په نوموړی ژمنی سره د ټولو هغو ژمنو مجموعی اندازه چی د مرستندويه هيوادونو لخوا د لندن په ستری غونډی کی وشوی 10.5 ميليارد امريکايی ډالرو ته ورسوله.

د افغانستان تړون چی د نړيوالی مرستندويه ټولنی او د افغانستان د دولت ترمينځ په روانه اونی کی په لندن کی مينځ ته راغی، د راتلونکی ۵ کلنو لپاره د يو لړ نورو موخو برسيره، د افغانستان د ملی نهادونو د وړوالی د لوړولو په وړاندی د خنډونو د ليری کولو ژمنه هم شامله ده. د غونډی ګډون کوونکو د دولتی سيستمونو لکه بودجی څخه د زياتی ګټی اخيستنی په هکله د پياوړی مرستو هوډ څرګند کړ تر څو خپلی ټولی مرستی د افغانستان ړومبيتوبونو ته ورکړی. ددغه کار په پايلی کی به افغانستان د پراختيايی پروګرام څښتنتوب يا مالکيت په غاړه واخلی او د ورکړ شوی پيسو ارزښت به لوړ کړی.

"ددی لپاره چی اغيزه ولرو، زمونږ مالی مرستی بايد د افغانستان د دولت پروګرامونه او لمړيتوبونو د لاس ته راوړلو او د افغانستان د مشرتابه سره د مرستی په موخه بايد برابری شی" دغه خبره پرافل پاتل، د سهيلی آسيا لپاره د نړيوال بانك د رئيس مرستيال وکړه. نوموړی زياته کړه، "د پراختيايی کارونو د سرته رسولو او د افغانستان وګړو ته د خدمتونو د برابرلو په هکله حساب ورکونه په پای کی د دولت پوری اړه لری او مونږ نړيواله ټولنه بايد پدی اړه د مرستی لپاره يوځای شوو" د غونډی څخه وروسته، د افغانستان لپاره د بيا ودانولو وجهي صندوق سره ۲٤ مرسته کوونکی هيوادونو غونډه وکړه او پر دی خبری يی بحث وکړ چی څنګه کولای شی دغه ميکانيزم چی په ترڅ کی يی د افغانستان د دولت بودجی سره نيغ په نيغه مرسته وشی تر څو وکولای شی خپل ړومبيتوبونه تر لاسه کړی،، لاپسی پياوړی او پکار واچوی. پاټل زياته کړه چی، " د افغانستان لپاره د بيا ودانولو وجهي صندوق په دی لړ کی يوه ښه بليګه ګڼل کيږی ځکه د نوموړی صندوق له لاری کولای شو د افغانستان دولت سره د مرستی په موخه منابع يا سرچينی راغونډی کړو. اوس پدی هکله خپل کارونه نور په ښه ډول څنګه ترسره کولای شو تر څو يووالی او همغاړی په ټولو هڅو کی مينځ ته راشی."

د افغانستان لپاره د بيا ودانولو وجهي صندوق (ARTF) د نړيوال بانك لخوا اداره کيږی او تر اوسه ۲٤ مرسته کوونکو ورسره د 1.3 ميليارد ډالرو مرسته کړی ده. ARTF پوری اړوندی پيسی د دولت د بودجی له لاری ورکول کيږی او تری په کلکه څارنه کيږی تر څو ډاډ تر لاسه شی چی پدی اړه اعتباری معيارونه په پام کی نيول شوی دی. دغه کار يوه ښه وسيله ثابته شوه چی دولت ته يی د بودجی په هکله څه نا څه ډاډګيرنه ور وبخښله او د مرسته کوونکو په يوه ميکانيزم کی د راټولولو له لاری يی د څو ريوټونو ورکولو اړتيا هم کمه کړه. سرچينی د دولت د جاری مصارفو لکه د ښوونکو او

روغتیایی کارکونکو نخواه ګانو او همدا راز د هغو ۱۲ پروژو سره د مرستی په خاطر تر اوسه استعمالی شوی دی چی د هیواد په هر ولایت کی خدمتونه او بنستیز جوړښتونه یا زیربناوی مینځ ته راوړی.

پاټیل وویل، "هغه ۲٤ مرستدویه سرچینی چی افغانستان سره د خپلو مرستو څه برخه یا ټولی مرستی یی د ARTF له لاری ورکړی دی کولای شی په ربنتینی ډول و ویاړی ځکه د نوموړو ددغه کار په نتیجه کی یو لړ تر ټولو ښه پراختیایی کارونه سرته رسیدلی دی". نوموړی زیاته کړه، "نوموړو مرستو نه یواځی د افغانستان د دولت په چلولو کی مهمه ونډه لری، بلکه نوموړی مرستی نیغ په نیغه پایلو لرلو سره عام او ډیرو نیستمنو افغانانو ته هم په اسانه توګه رسیږی".

په افغانستان کې د نړیوال بانک د فعالیتونو په هکله د د لازیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبسایت ته مراجعه وکړئ.
http://web.worldbank.org/af